ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

# د مادي فولکلور يو توکے "پېزوان" او پښتو ټپه


- Dr. Mazhar Ahmad[1]
- Laila Gul[2]
- Dr. Uzma Gul[3]



Abstract:

*Folklore means the traditional beliefs, customs, and stories of a community, passed through the generations by word of mouth. The folklore of metal like gold, silver, iron and copper is mentioned in Pashto poetry in general and in Pashto Tapa in particular. In Jewelry nose rings has been a favorite subject of Pashtun poets in Pashto Tapa. In this paper, a research review of Nose ring has been taken with reference to Pashto Tapa.*


فولکلور هغه ادب بللې شي کوم چې دَ يو قام يا ملک په وګړو کښې خور شوې وي خو جوړونکے يا ويونکے يې معلوم نه وي که چرې معلوم وي نو هغه بيا فولکلور نه شي بللې کېدے۔ فولکلوري ادب شفاهي ډول يعنې خله په خله يا سينه په سينه منتقل شوے دے او منتقل کيږي۔

په پښتو ژبه کښې دَ فولکلور د پاره دَ "اولسي ادب" او "شفاهي ادب" اصطلاحات استعماليږي ۔ دَ فولکلور ټکي دَ ټولو نه اول ځل پکارونکے انګرېز ليکوال (W.J. Thom’s) دے ۔ دهٔ په کال ۱۸۴۶ء کښې په قلمي نوم (Ambrose Merton) يو مضمون ليکلے ؤ۔ او دَ فولکلور کلمه يې دَ ټولو نه وړومبے پکارولې وه۔[1] دَ فولکلور ټکي دَ لغوي او اصطلاحي معنو ه لړ کښې ښاغلے پرفېسر داور خان داؤد ليکي چې:

> " په ادبي اصطلاح کښې "فولکلور" دَ يو اولس دود دستور، تهذيب و تمدن، ثقافت، توهماتو، رواياتو، تعصباتو، عقائدو، ګړو وړو، وادهٔ ښادۍ، مړي ژوندي، خوښۍ نا خوښۍ، تجربو، مشاهدو، او نور ډېر څه ته وائي۔[2]

دغه شان فضل ميرخټک دَ فولکلور په حقله ليکي چې:"دَ عوامو مجموعي ژوند او دَ ژوند تېرولو طريقو ته فولکلور وائي۔ چې په کښې دودونه او دستورونه شامل دي "۔[3] دا رنګ دَ فولکلور په حقله دائره المعارف برېټانيکا ليکي چې "فولکلور دَ پخوانو قيصو، متلونو، روايتونو، سندرو، افسانو، سحر او ګډو وډو خبرو يو عام نوم دے۔ چې دَ پخوانو وختونو نه تر دې دمه په ناليکلي حالت کښې رارسيدلے دے"۔[4]

---

[1] **Assistant professor in Department Of Pashto, University Of Malakand.**
[2] **PhD Research Scholar in Department Of Pashto, University Of Malakand.**
[3] **Associate Professor GGDC Shabgadar, Charsadda.**

فولکلوري ادب دَ خپل وطن او اولس دَ دود او دستور، تهذيب وتمدن او کلتور آئينه دار وي او خپل ځانګړي خصوصيات، صفات او اهميت لري۔

لکه څنګه چي دَ نړۍ په نورو ژبو کښې فولکلوري ادب ته اهميت حاصل دے هم دا رنګ په پښتو ژبه او ادب کښې هم فولکلوري ادب ډېر اهميت او ارزښت لري۔ دَ پښتو ژبې، دَ پښتو ادب او دَ پښتون اولس دَ بقاء او ارتقاء په مېدان کښې فولکلوري ادب ډېر مهم کردار لوبوي۔ په دې حقله محمد نواز طائر صېب ليکي چې:

"دَ پښتو شفاهي ادب په هر دور کښې دَ پښتنو دَ فطرت ترجمان پاتې شوے دے۔[5]

کله چي دَ مختلفو تجرباتو، حالاتو او معلوماتو دَ خوندي کولو دَ پاره څه خاص او مناسبه وسيله نه وه۔ نو دا به دَ يو نسل در بل سينه په سينه منتقل کېدۀ۔ په دې حقله ستر محقق محمد صديق روهي ليکي چي" فولکلور دَ تاريخي تحقيق د پاره ښکلي مواد تيارکړي دي"۔[6]

دَ موضوع او معني په لحاظ دَ فولکلور درې غټ او مشهور قسمونه دي چې پروفيسر داور خان داؤد يې داسې وضاحت کوي۔

"مادي يا غېر لفظي فولکلور لکه وسله، کالي پټري، جامه پېزار، اوزار، سيکې، کتبې او نور چې د دهات، کاني، اوسپني، پيتلو، تانبې، خاورې، کېږې يا لرګي نه جوړ کړې شوي څيزونه شامل وي۔"[7]

کالے زمونږ دَ مادي فولکلور حصه ده۔ په دغه کالو کښې يو کالي پېزوان دے چې تقريبا زمونږ دَ شعري ادب په هر صنف کښې ياد شوے دے۔ دغه شان په ټپه کښې هم د ډير قسم کالي پټري ذکر شوي دي چي پکښې يو پېزوان هم دے۔

پېزوان په ډېر قسمه دے۔ پېزوان خاروي ته هم اچولې شي کوم خاروے چې ډېر مست شي او قابو کول يې ګران شي نو پېزوان ورته اچولے شي۔ يو هغه غاښور لرګے چې د سخي، سخۍ، کتي، کټۍ په خله کښې ئې دې د پاره تړلې وي چي مور ونۀ روي، پېزوان بللے شي۔ (په سوات سيمه کښې دغه رنګه غاښور لرګي ته ټومب وائي) بل د پنجه دار پېزار هغه تسمه چې دَ دوؤ ګوتو مېنځ کښې راځي پېزوان ورته وائي۔ يو دَ چائنک سر ته چې کوم مزے اچولې شي هغې ته هم پېزوان وائي او هغه ددې د پاره چي دَ چائنک سر زمکي ته ارتاؤ نۀ شي۔ دلته چې مونږ د کوم

پېزوان جائزه اخستل غواړو نو دا هاغه کالے وي چې جینکۍ یې په پوزه کښې اچوي. دغه پېزوان چې جینۍ په پوزه کړي نو دَ مئین جذبات او احساسات بې قابو کړي.

پېزوان دَ پښتو ژبې شاعرۍ کښې په هر ډول او انداز ستائیلے شوے دے. خصوصا دَ پښتو ژبې په فولکلوري صنف "ټپه" کښې ډېر زیات او په ښه شان سره ذکر شوے دے. دَ جوړښت په لحاظ پېزوان دَ سرو زرو ، سپینو زرو او پیتلو نه جوړیږي. دَ ماشومې د پاره جدا او دَ پوخ عمر ښځې د پاره په جدا ډول جوړیږي. ډېر قسمونه نه ئې دي. لکه پلن، نرے، غونډ او دانه دار وغېره.

دَ پېزوان دغه جوړښت ډیزائن او قسمونه په ټپه کښې داسې ذکر شوي دي.

پېزاون دې میاشت خالونه ستوري
مخ دې آسمان زلفې شپې دَ باران دینه
پېزوانه ستا په پرو غوخ شوم
تر ژوندانه به مې روغ نه شي پرهرونه[8]

اباسین بیا په چپو راغے
په سر یې راوړه سپینې خلې زېړ پېزوانونه[9]

پېزوان په کرمه کښې جوړیږي
دَ پېښور زرګره مات دې شه لاسونه
دَ سور پېزوان نه دې قربان شم
لږ په ورو ورو یې خوزوه چې باد راځینه
دا په کوټه ولاړه څوک ده
پېزوان یې برېښې ورور یې کورنه نۀ پرېږدینه
اوس راته نیغ په سترګو ګوره
ستا دَ پېزوان په پرو غوخ یم مړ به شمه
پېزوان به نوے درله جوړ کړم
ته خفه نه شې زۀ به ستا رضا کوومه[10]

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

پنځه غمي په پېزان خوند کړي
ځلور پټري په چار ګل لا مزه کوینه
پېزان مي روڼ جوړ کړه زرګره
یار مي هر کله دَ پېزوان په رڼا ځینه
ځلور غمي یې په پېزوان کښې
لکه دَ ستوري هر غمے رڼا کوینه[11]

داوې هغه ټپې کومې چې دَ پېزوان دَ جوړښت رنګ ورغن او ډایزئن باره کښې وې۔ اوس هغه کوم چې دَ پېزوان په حقله هغه ټپې وړاندې کړم په کومو کښې چې پېزوان دَ ماشوقې په پوزه دَ لیدو سره دَ عاشق په زړه کښې مختلف جذبات او احساسات رالړزېدلې وې۔

پېزوان ترې ما په خلۀ کښې یوړو
کم عقله مور یې ډېرانو نه لټوینه
پېزوان دې بیا په شونډو سور کړو
لکه استاد شاګرد ته لښته خوزوینه
پېزوان دې کوز کړه اوبه راکړه
یو دې ثواب وې بل دې یار له تندې مرینه
پېزوان دې نه دے زلزله ده
چې ورته ګورم په کتو یې حېران شمه
پېزوانه تا نه مې ګیله ده
شونډې نرۍ دَ جانان تا ښکل کړې دینه
پېزوانه څومره بخت بلند یې
د ناز مېرمن دې سور په شونډو ګرځوینه
پېزوان یې بیا په شونډو سور کړو
د چا د مرګ بنا کوې ورپسې ځینه
پېزوان یې بیا په پوزه سور کړو
لکه دَ اور په شان بخرې غورځوینه
پېزوان یې بیا په شونډو سور کړو
معلومه نه ده د چا کور به ورانوینه

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

پېزوان بې بیا له پوزې کوز کړو
لیلی دَ چا دَ زړونو اخلې ازارونه[12]

پېزوان دې شاه نته رانې ده
دا سور چارګل دې شهزاده امر کوینه
ټیک دې بادشاه پېزوان وزیر دے
سرۀ چار ګلان دې جلاتیان نیولې دینه[13]

په خله دې هیڅ راته اونه وې
د سور پېزوان لاندې دې اوچیچل غابښونه
پېزوانه ستا قدر پکار دے
چې ملکه دَ حسن ناز په تا کوینه
پېزوان دې جوړ د بوډۍ تال دے
زما نصیب پرې زنګوې بیمار به شینه
په چیلم راغله کش یې ورکړو
دَ خونړې پېزوان یې شنې لوخړې ځینه
ستا د پېزوان لاندې اوده شوم
پېزوان دې رو رو رپوه چې باد راځینه
لیلی په باغ کښې الوچې خورې
دا سور پېزوان یې نرۍ لښتې ماتوینه
ما درته نه وې شرمېدمه
د سور سالو سره پېزوان مزه کوینه
والۍ د غوږ د امېل د غاړې
پېزوان د پوزې راته کړې اشارتونه[14]

پېزوان دې بیا په شونډو سور کړو
زما د زړه په دنیا اور اولګېدونه
پېزوان په لبو مقرر دے

د زرو قدر زرګرانو سره وينه
پېزوان دي سرهٔ بخري نولي
د چا يې اوسوې بوساړې د چا ټوپونه[15]

دا هغه ټپې وې کومې چې دَ عاشق له طرفه دَ ماشوقې په پوزه دَ پېزوان ليدو سره دَ هغه دَ قلبي وارداتو جذباتو او احساساتو ترجماني کوي۔ ددې نه برسېره داسې بې شمېره ټپې هم شته چې دَ ماشوقې له خلې دَ پېزوان په حقله وتي دي لکه چې وائي :

بيا به پېزوان په پوزه نه کړم
اشنا شپېلۍ وهي پېزوان پکښې ستائينه
پېزوان مې خړو اوبو يوړو
په غم شريکه ياره نيسه ګودرونه
جانان به بل ملک ته پرې نهٔ ږدم
ورته پېزوان دَ مار ګلې په کنډاؤ ږدمه[16]

اوبه مې ښنې پېزوان مې لوند شوپه
په نري باد يې اوچوم ولاړه يمه
پېزوانه زېړے مې درباندې
سبا اختر دے په سرو شونډو به دي وړمه
پېزوان مې لوئے دے زهٔ وړه يم
په وړوکوالي کښې نتکۍ مزه کوينه[17]

پېزوان زما په کور کښې ورک شو
که چا پيدا کړو سپينه خله به ورکومه
پېزوان مې تورو سترګو اوخوړ
اوس دَ نظر تعويز پېزوان له جوړومه
پېزوان مې خړو اوبو ډوب کړو
دا سپينه خله به لامبوزن له ورکوزومه
پېزوان مې ستا بريتو کښې بند شو
د دروازې پورې بندې درپسې تلمه
پېزوان مې غلې غلې کيږي

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.1 2024

د لونګين سره صلاح پکښې کوينه
پېزوانه ته ولې دلګير يې
دلګيره زۀ يم چې مې يار له غېږې ځينه[18]

دَ پورته ليک نه زما مقصد دا وۀ چې زۀ په ټپه کښې دَ ذکر جاج واخلم. دَ څېړنې په دې لړ کښې به يقيناداسې ډېرې ټپې وي چې هغه به دَ پېزوان په حقله وي خو زما نه به پاتې وي. او هغه ځکه چې ما زياته تکيه په کتابونو کړې ده او پاتې ټپې به په اولس او ټولنه کښې وي بله دا چې ټولو کتابونو ته هم زما رسائي نشته. بحر حال ما د خپل حد تروسه کوشش کړے دے چې په پښتو ټپه کښې دَ مادي فولکلور دَ توکي "پېزوان" جاج واخلم. او خپله څېړنه پرې دَ قلم په ژبه کاغذ ته اوسپارم.

دَ دې څېړنې نه پس زۀ دا خبره په دعوې سره کووم چې کومه منظرکشي چې په پښتو ټپه کښې دَ پېزوان په حقله شوې ده دا به د پښتو ژبې دَ شاعرۍ په بل صنف کښې دَ پېزوان په حقله داسې نه وي ذکر شوې.

حوالې

[1] Encyclopedia Britannica and Encyclopedia of American.

[2] داؤد، داور خان، خوشحال، خوشحال خان او فولکلور، پربس. جدون پرنټنګ پربس پېښور ښار، ناشر: ډائربکټر پښتو اکېډمی پېښور يونيورسټی، کال فروری ۲۰۰۶ء ص ۔ ۱۳

[3] خټک، فضل مير، فضليات، کتابت، محمد رسول (پښتو اکېډمی)، کال ۱۹۹۹ء ص ۔ ۳۱۶

[4] Folklore Encyclopedia Britannica, Vol.9, 1970.

[5] طائر محمد نواز، روهی ادب، جلد اول، ص ۷۵

[6] روهی محمد صديق، دَ ادب او فولکلور په باره کښې، سريزه. ص ۲

[7] داؤر، داور خان، خوشحال، خوشحال خان او فولکلور، پربس. جدون پرنټنګ پربس پېښور ښار، ناشر: ډائربکټر پښتو اکېډمی پېښور يونيورسټی، کال فروری ۲۰۰۶ء ص ۔ ۴۰

[8] سلمی شاهين ډاکټر، روهی سندرې، ناشر، ډائربکټر پښتو اکېډمی پيښور پريس. جدون پربس پېښور، کال ۱۹۸۴ء صفې ۱۵۶۔۱۵۷

[9] هم دغه اثر، ص ۶۳

[10] طائر محمد نواز ټپه او ژوند، ناشر حکومت خېبر جدون پرنټنګ پربس پېښور ښار، ناشر: ډائربکټر پښتو اکېډمی پېښور يونيورسټی، کال فروری ۲۰۱۲ء ص ۔ ۴۴۱

[11] خاکی شاه وزير خان په ټپه کښې مادی فولکلور ناشر فضل ربی راهی پريس نديم يونس پرنټرز لاهور کال فروری ۲۰۱۷ء ص ۔ ۱۷

[12] داؤد، داور خان، پښتو ټپه، صفځې ۔ ۱۰۷۔ ۱۰۸۔ ۱۰۹

[13] سلمی شاهین ډاکټر، روهي سندرې، ناشر، ډائرېکټر پښتو اکېډمی پېښور پریس. جدون پرېس پېښور، کال ۱۹۸۴ء صفې ۱۵۶ ـ ۱۵۷

[14] داؤد، داور خان، پښتو ټپه صفحې ۱۰۷ ـ ۱۰۸ ـ ۱۰۹

[15] خاکی شاه وزیر خان په ټپه کښې مادی فولکلور ناشر فضل ربی راهی پریس ندیم یونس پرنټرز لاهور کال فروری ۲۰۱۷ء ص ـ ۲۱ ـ ۲۲ ـ ۲۳

[16] طائر محمد نواز ټپه او ژوند، ناشر حکومت خېبر پښتونخوا جدون پرنټنګ پرېس پېښور ښار، ناشر: ډائرېکټر پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټی، کال فروری ۲۰۱۲ء ص ـ ۴۴۱ ـ ۴۴۲

[17] خاکی شاه وزیر خان په ټپه کښې مادی فولکلور ناشر فضل ربی راهی پریس ندیم یونس پرنټرز لاهور کال فروری ۲۰۱۷ء ص ـ ۲۱ ـ ۲۴

[18] سلمٰی شاهین ډاکټر، روهي سندرې، ناشر، ډائرېکټر پښتو اکېډمی پېښور پریس. جدون پرېس پېښور، کال ۱۹۸۴ء صفې ۱۵۶ ـ ۱۵۷